# ښکېلاکګر وشړئ؛ تروریزم به پای ته ورسېږي

(ژباړه)

**خبر:**

په ۰۸:۴۵ دقیقو یوه ځان وژونکي خپل د چاودیدونکو توکو څخه ډک موټر قیصری (ایشایس) پوهنتون ته نږدې وچاوداوه. د دغه برید موخه یو شخصي ملي بس و چې پوځیان یې لېږدول. د ترکیې د وسلوالو ځواکونو په وینا؛ په دغه برید کې ۱۳ پوځیان ووژل شول او ۴۸ نور ټپیان شول.

**تبصره:**

له بدمرغه د هرې ورځې په سهار کیدو سره موږ د نویو دردونو شاهدان کیږو. هره ورځ موږ په خپلو سیمو کې د نویو بریدونو څخه خبریږو. وینو چې کله استانبول کله قیصري کله هم حلب یا ادلیب او یا ځیني وخت ارکان، غزه او یا هم نور ځایونه تر موخې لاندې راولي. داسې ښکاري چې هغه د قدرت خاوندان چې د دې ډول پیښو له پیښیدو څخه ورسته غندونکې بیانیې وړاندې کوي او په  ځنیو وختونو کې سختې څرکندونې کوي، له خپلو تجروبو څخه درس نه اخلي او لا تر اوسه د دې ډول پیښو له اصلي مجرمینو سره اړیکې ساتي. میندې ژاړي، د خلکو ژوند او هیلې ټولې له خاورو سره یو کیږي.

له ۲۰۰۷ څخه پر دې خوا موږ وینو چې د اساسي قانون د بدلېدو د خبر له را پورته کېدو سره سم ډېر وحشتناک بریدونه را منځته شوي. له دې وروسته چې (اې کې پي) د دولت په ځینو بنسټونو کې په ساختماني او شخصي برخو کې قوانین بدل کړل، سم له لاسه د جولای د ۱۵مې کودتا وشوه. د یادونې وړ ده چې وړاندې شوي قوانین ډېری په نظامي برخو کې وو، همداراز دوی د اساسي قانون د بدلولو اجنډا د (ام اچ پي) په ملاتړ سره راپورته کړه. وروسته له دې چې مهم کارونه یې پای ته ورسېدل د (اې کې پي) او (ام اچ پي ) پلان د ډېسمبر په لسمه پارلمان ته وړاندې شو، په هماغه شپه هغه برید چې د استانبول د بیکیټاس په ولسوالۍ کې وشو پړه یې (ټي اې کې) په غاړه اخیستې وه. انګلیش فایننشل ټایمیز دغه برید دا ډول تحلیل کړ: دغه برید ورسته له هغه واقع شو چې وړاندې شوی قانون تصویب شو دغه قانون (اې کې پي) لا ځواکمنوي، یعني (هغه به د رجب طیب اردوغان ولسمشري پیاوړې کړي) دی به د خپل دغه ځواک په مرسته وکولای شي ترکیه تر ۲۰۲۹ کال پورې رهبري کړي.

د قیصری د برید څخه ورسته د ترکیې د کورنیو چارو وزیر سلیمان سیلو وویل: د جولای د ۱۵مې له پېښې څخه څرګندیږي، چې هغه څوک چې د جولای په ۱۵ مه په ترکیه باندې په تیري کې پاتې راغلل، اوس یو بل ته لاس په لاس ورکولو سره غواړي چې ترکیه د ترویزم له لارې مایوسه کړي او د انزوا حالت ته یې بوځي.

د اساسي قانون او سیستم تغیرول د ترکیې د بنسټ ایښودونکو او د هغه انګریزي سیاست لپاره چې له دوی څخه ملاتړ کوي یوه سره کرښه ده. په دې ډول جوړجاړي سره یې تل هڅه کړې چې په ترکیه کې د امریکایي ډوله سیاست څخه مخنیوی وکړي، خو پکې پاتې راغلي. هر هغه سیستم که هغه د جمهوریت په نامه وي یا هم کوم

بل سیستم وي، که هغه د انګریز د ګټو په زیان وي او یا یې هم په خطر کې اچوي، هر ډول چې کیږي دوی به ترې مخنیوي وکړي.

دا یوه داسې لړۍ ده چې د عامو خلکو نظر د (ام اچ پي) د ملاتړ له لارې د (اې کې پي) په ګټه پای ته ورسوي، دغه موضوع په اجنډا کې وساتي او خلکو ته تر ټول پوښتنو پورې قناعت ور کړي. په هر حال دا ډول بریدونه کولای شي دا موضوع بدله او له زیات ملاتړ څخه یې مخنیوي وکړي.

د (پي کې کې) او نور تروریستي ګروپونو له لوري دا ډول بریدونه شاید عامو خلکو ته ځیني ناراحتۍ را منځته کړي. سره له دې چې (اې کې پي) له هر برید وروسته غواړي د خلکو فکرونه په خپله ګټه واړوي، خو د خلکو ناراحتي به له دې ډول بریدونو وروسته نوره هم زیاته کړي. که ټول پوښتنه په اپرېل کې ترسره شي او بریدونه هم همدا ډول جریان ومومي حالت به له بد بدتره شي.

که د اساسي قانون تغیرول رښتیا شي او کنه کومه خبره نه ده. انګریز به تر هغه دا ډول بریدونو ته دوام ورکړي ترڅو چې پخلاینه او روغې جوړې ته سره ورسیږي. دوی همدا راز غواړي چې د هېواد د اقتصاد په ضعیفه کولو سره، دولت ضعیف کړي.

دواړه بریدونه د استانبول، قیصري او همداراز د حلب ټول له یو ځای څخه پلان شوي دي. موخه یې دا ده چې ټولو اسلامي هېوادونو ته ګډوډي او غوغا راوړي. هغه سازمانونه چې دا ډول بریدونه تر سره کوي دویم لاسي قرردادي سازمانونه نه دي، بلکې هغه کافر هېوادونه دي چې د دې ټولو سازمانونو تر شا دي لکه امریکا، انګریز، روسیه او یهود؛ له همدې امله هغه ځه ته چې اړتیا ده هغه دا دي چې د دغه هېوادونو سره اړیکې پرې شي، سفارتونه یې بند شي، لاسپوځي یې یا وایستل شي او یا هم بندي شي او اسلام بیر ته را وګرځول شي.

تر هغه مو چې له اصلي او رښتنیو مجرمینو سره جګړه نه وي کړې، شونې نه ده، چې تروزیزم له مینځه یوسئ او یا یې هم پای ته ورسوئ نو که غواړئ چې تروریزم پای ته ورسوئ، باید ښکېلاکګر وباسئ. که غواړئ چې خاورې او سیمې مو له وحشت څخه پاکې شي باید د اصلي مجریمینو پر ضد مبارزه وکړئ. بې له دې که موږ کوم کار کوو په دې معنا چې موږ د غوماشو پر وړاندې مبارزه کوو چې دا اساسي حل لاره نه ده او هېڅ ځای هم نه نیسي. اساسي حل لاره یې یوازې په نبوي منهج راشده خلافت دی، چې اسلام تطبیقوي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**موسی بیاګلو**